**NDI — NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS**

**د فوری خپراوي لپاره**

د ۱۳۸۹ کال د مرغومی ۹ مه
اړیکه: کاتی ګیست،
, 202-728-5535kgest@ndi.org

**ملی دموکراتیک انستیتوت د ۲۰۱۰ کال ټاکنیز معلومات ، د ټاکنو په هکله په خپل انترنیتی سایټ کې چې په نقشه کې ښودل کیږي، خپاره کړي**

**دا دي دغه سایټ د ۲۰۰۴، ۲۰۰۵، ۲۰۰۹ او د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو په اړه معلومات له ځانه سره لري.**

واشنګټن ډی سی- ملی دموکراتیک انستیتوت نن څرګنده کړه چې د ۲۰۱۰ کال د ولسی جرګې د ټاکنو په اړه معلومات یې د دغه انستیتوت لخوا په جوړ شوي سایټ کې www.afghanistanelectiondata.org چې د ټاکنو معلومات په نقشه کې څرګندوي، ځای پرځای کړي دي.

دغه سایټ د افغانستان د ۲۰۰۴، ۲۰۰۵، ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال د ټاکنو په اړه د دموګرافیک، اتنوګرافیک، قومی ترکیب او تناسب، توپوګرافیک، امنیتی او بو لړ نورو هغو موضوعاتو په اړه د معلوماتو درلودنکي دي چې کولای شو له هغو څخه د رایي ورکوني او نورو پورته ذکر شویو برخو، د تحلیل او ارزوني په برخه کې ګټه واخلو.

ملی دموکراتیک انستیتوت څرګنده کړه چې د دغه سایټ د جوړولو څخه موخه د ټاکنو د پرمختګونو په اړه معلوماتو ته د لاسرسی د کچې لوړول او هغو ته لازیاته روڼتیا ور ښئل دي تر څو هغه کسان چې د افغانستان په سیاسی بهیر کې دخیل دي له هغې جملې دولتی چارواکي، سیاسی ګوندونه، کورنی کتونکي او هم نړیواله ټولنه وکولای شي له دغو معلوماتو څخه د راتلونکو ټاکنو د ښه والي په خاطر ګټه واخلي. له سایټ څخه لیدونکي کولاي شي چې د خپلي خوښي وړ معلومات او نقشي د خپل پام وړ هدفونو په خاطر ډاونلوډ کړي.

د غه سایټ د Browser په کارولو سره چې د نقشو ، فلترونو او overlays د مدیریت لپاره هغه اړونده لاري په ګوته کوي کوم چې د رای شمیرني په اړه معلومات د د ولایت ، ولسوالی او د رای ورکولو د مرکزونو په کچه، په بیلابیلو برخو ویشي او هغه د لاسرسی وړ ګرځوي. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو په اړه، دغه سایټ مخکني او وروستي پایلي ښیي او د هر یوه ۲۴۲۷ نوماندانو د رایو شمیرنو وروستني فهرست کوم چې د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا په تصدیق شویو پایلو کې شامل دي، خپروي. دغه راز دغه سایټ یو لړ نور معلومات له واک څخه د لرې شویو نوماندانو په اړه ، د رایې ورکولو دهغو مرکزونو په اړه کوم چې د ټاکنو په ورځ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا د امنیتی ستونزو او یا نورو دلیلونو پر بنسټ تړل شوي، همدارنګه په هر ولایت کې د ښځو او نارینه ؤ د رایو په اړه، او د کومو پایلو په اړه چې د مخکنیو او وروستیو پایلو د تغییراتو په ترڅ کې اعلام شوي ، هم درلودنکي دي.

دغه معلومات له هغه څخه کوم چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون لخوا خپاره شوي، ترلاسه شوي دي. د دې ترڅنګ نورې سرچینې د د غو معلوماتو په اړه د افغانستان د ځمکې پیژندنې او نقشه اخیستنې د مرکزی دفتر(AGCHO) ، په افغانستان کې د غیر دولتی سازمانونو د مصوونیت دفتر(ANSO) او د افغانستان د معلوماتی خدمتونو د مدیریت څخه عبارت دي.

په د غه انترنیتي سایټ کې له هغو سافټویرونو څخه کار اخیستل شوي کوم چې په آسانی سره د ډاونلود کولو امکان برابروي، او دا وړتیا لري ترڅو لیدونکی وکولای شی په خپل فارمټ کې هغه ځاي پر ځاي کړي. دغو معلوماتو ته پرانیستي لاسرسي، لیدونکو ته دا وړتیا ورکوي چې د تحلیل لپاره د خپلو وسیلو څخه کار واخلي چې دا په خپل ذات کې د لاسرسی او روڼتیا کچه لوړلوي او کیدای شي چې یوه ښه بیلګه د پرانیستی حکومت په ټوله نړۍ کې وګرځي.

دغه پروژه د Development Seed په مرسته کوم چې په آنلاین توګه د معلوماتو د راغونډولو او د لاسرسی وړ کرځولو په برخه کې یو متخصص نهاد دي، ترسره شوې .

ملی دموکراتیک انستیتوت له ۲۰۰۲ کال څخه راپدې خوا په افغانستان کې کار کوي او نړیوال ماموریت یې د ۲۰۱۰ کال د سپتامبر د ټاکنو د نظارت لپاره په کار وګماره. د ملی دموکراتیک انستیتوت د ټاکنیزو فعالیتونو لپاره د معلوماتو لپاره http://www.ndi.org/afghanistan - Elections دلته کولای شی ترلاسه کړي.

د لانورو زیاتو معلوماتو لپاره د ملی دموکراتیک انستیتوت دغه انترنیټی سایت ته مراجعه وکړي. *www.ndi.org*
*د ملی دموکراتیک انستیتوت له ټاکنو څخه د ملاتړ پروګرام د متحده ایالاتو د نړیوال پراختیایی پروګرام لخوا تمویل کیږي.*

###